# راتلونکے بادشاہ



# راتلونکے بادشاه

یعنے

# مالک عیسیٰ مسیح

د کتاب مقدس
په الفاظو کښے

# منت

په دې ورکوټي کتاب کښې دَ کتاب مقدس يو څو آياتونه ليکلے شوي دي او تاسو ته په تاکيد سره دا منت کوو چه تاسو پخپله دَ کتاب مقدس مطالعه وکړئ ولے چه هم دَ هغه په وسيلے حق تعالىٰ ټولو قومونو ته حقيقت او ژوندون ښکاره کوي.

# د عیسیٰ مسیح د خپل بیا راتګ په حقله خبری

څۀ وخت چه عیسیٰ مسیح د ښونانو په غر ناست وو نو مُریدان ئے راغلل چه د هغۀ سره په پړده کښے خبرے وکړی. هغوئ ووئیل، مونږ ته دا وښایه چه دا به کله پیښه شی او ستا د راتلو او د آخری زمانے نخښه به کومه وی؟ عیسیٰ جواب ورکړو، خبردار، چه څوک مو بے لارے نه کړی. ځکه چې ډیر به زما د نوم دعویٰ کوی او وائی به چه زه مسیح یم، او ډیر به بے لارے کوی. داسے وخت راځی چه تاسو به په خپل خواؤ شاه کښے د جنګونو چغے سورے آورئ او د جنګونو نه به خبریږئ، خو ګورئ چه ستاسو وار خطا نه شی ځکه چه داسے خبرے به خامخا پیښږی خو لا به آخر نه وی.
قوم به د قوم سره جنګیږی او بادشاهی د بادشاهی سره . په ډیرو ځایونو کښے به قحطونه او زلزلے راځی. خو دا ټولے خبرے به د لنګون د دردونو د شروع په شان وی.
تاسو به بیا د تنګسیا او د مرګ د پاره حواله شئ او ټول قومونه به زما د نوم په وجه تاسو سره کینه ساتی.
او چه بے شرعے کارونه زیات شی نو د خلقو به د یو بل سره مینه ورکه شی. خو کوم سړے چه تر آخره ټینګ پاتے

شی هغه به بچ کړے شی. او په ټول عالم کښے به د بادشاهئ زیرے وعظ کیږی او د ټولو قومونو د پاره به ګواهی شی او بیا به آخرت وی
(متی ۲۴ : ۳-۹، ۱۲-۱۴).
او که بیا تاسو ته څوک دا ووائی چه ګورئ مسیح دلته دے یا هلته دے، نو باور پرے مۀ کوئ. لکه څنګه چه بریښنا د نمر خاتۀ نه نمر پریواتۀ ته خوریږی دغه شان به د ابن آدم راتلل وی. بیا به په آسمان کښے د ابن آدم د راتلو نخښه ښکاره شی، د دنیا ټول قومونه به ماتم کوی او هغوئ به ابن آدم وینی چه د آسمان په وریځو کښے به د طاقت او د ډیرے لوئی سره راځی. او هغه به خپلے فرښتے د تُورئ په لوئے آواز سره راولیږی او هغوئ به د څلورو طرفُونو نه،یعنے د آسمان د یو سر نه تر بله سره،غوره شوے خلق راټول کړی.
آسمان او مزکه به پاتے نه شی خو زما کلام به پاتے شی.
خو هغه ورځ او هغه ګړئ هیچا ته معلومه نه ده،نه خو د آسمان فرښتے پرے خبر دی او نۀ زوئے،خو یو پلار پرے خبر دے. لکه چه دَ نُوح په ورځو کښے وشو نو دغه شان به د ابن آدم په راتلو هم وشی. په هغه ورځو کښے چه د طوفان د راتلو نه اول وو هغوئ خوړل، څښل، وادونه ئے کول او وادونه ئے ورکول، تر هغے ورځے پورے چه نُوح په

بیړئ کښې ننوتلو. او دوئ تر هغې هیڅ خبر نۀ وو تر څو چه طوفان رانه غې او دوئ لاهو نه کړل. دغه شان به د ابن آدم په راتلو وی. نو هغه وخت به دوه تنه په پټی کښې وی، یو به بوتلے شی او بل به پریښودلے شی. دوه ښځې به میچن کوی، یوه به بوتلے شی او بله به پریښودلے شی. بیدار اوسئ، ځکه چه تاسو هیڅ خبر نۀ یئ چه مالک به په کومه ورځ راځی

(متی ۲۴: ۲۳، ۲۷، ۳۰-۳۱، ۳۵-۴۲).

په هغه وخت به د آسمان بادشاهی د لسو پیغلو په شان وی چا چه مشعلُونه واخستل چه د وادۀ د زلمی مخې له وروزی. پنځه کم عقلې وې او پنځه هوښیارې. هر کله چه کم عقلو مشعلُونه پورته کړل نو د ځان سره ئې تیل وانۀ خستل. خو هغه هوښیارو د ځان سره د تیلو کُوپئ هم واخستې. کله چه د وادۀ زلمې په راتلو کښې اټال شو نو هغوئ ټولې پرکاله شوې او خوب یوړې. خو په نیمه شپه کښې چغې شوې، دا دې د وادۀ زلمې! راشئ چه وئې وینئ! په دې ټولې پیغلې پاڅیدلې او خپل مشعلُونه ئې سم کړل. کم عقلو هوښیارو ته ووئیل چه د خپلو تیلو نه مُونږ له لږ راکړئ ځکه چه زمُونږ مشعلُونه مری. هغوئ ورته ووئیل چه مُونږ سره دومره تیل نِشته چه د ټولو کار پرې وشی، ښۀ به دا وی چه تاسو دکان ته لاړې شئ او

ځان له تیل واخلئ. څۀ وخت چه هغوئ په تیلو پسے تلے وے نو د وادۀ زلمے راغے. کُومے چه تیارے وے هغوئ ورسره د وادۀ مجلس ته ننوتے او ور بند شو. او بیا هغه نورے پنځۀ هم بیرته راغلے او چغے ئے کړے، صاحبه! صاحبه! مُونږ ته ور بیرته کړه. خو هغۀ ورته جواب ورکړو، خبره دا ده چه زه تاسو نۀ پیژنم. ځکه بیدار اوسئ، ولے چه تاسو ته د ورځے او دَ وخت هیڅ پته نشته (متی **۲۵**: ۱-**۱۳**).

ملاګانے تړلے او ډیوے بلے، او د هغو سړو په شان شئ څوک چه د خپل مالِک د وادۀ د ډوډئ نه بیرته د راتلو په انتظار وی د دے د پاره چه هغه څه وخت راشی، ور وټکوی نو چه ئے سمدستی ورته بیرته کړی. هغه خادمان بختور دی چه مالِک ئے د راتلو په وخت بیدار څوکیدارووینی! زه تاسو ته دا وایم، هغه به خپله ملا وتړی، دوئ به خوراک ته کښینوی او هغه به راشی د دوئ خدمت به کوی. بیا نو ځان تیار ساتئ ځکه چه ابن آدم به په داسے وخت کښے راځی چه ستاسو په ګمان کښے به هم نۀ وی (لوقا ۱۲: **۳۵-۳۷**، **۴۰**).

او زه چه څۀ تاسو ته وایم نو ټولو ته ئے وایم چه بیدار اوسئ (مرقوس **۱۳**: **۳۷**)

ستاسو غمژن زړونه دِ ګبراؤ نۀ شی، په خُدائے یقین لرئ، هم په ما یقین لرئ. زمَا د پلار په کور کښې د اوسیدو ډیر ځایُونه دی. که چرے داسے نۀ وے نو بیا به ما تاسو ته وئیلی وُو. ځکه زه ځم چه ستاسو د پاره هلته ځائے تیار کړم. او که هلته زه لاړ شم او تاسو ته ځائے تیار کړم نو په خپله به بیا راشم او تاسو به د ځان سره بوزم، ځکه چه چرته چه زه یم هلته به تاسو هم یئ (یوحنا ۱۴: ۱-۳).

هو! ګورئ! زه عیسی زر درځم او خپل اجر د ځان سره راوړم چه هر یو له د هغۀ د عمل په مُطابق اجر ورکړم. الفه اومیګه زه یم، الاول او الاخر، ازل او خاتمه (مکاشفه ۲۲: ۱۲-۱۳).

# د فرښتو په وسیلے د مسیح د بیا راتلو خبر

تر هغه وخته چه عیسی د رُوحُ القُدس په وسیله خپلو رسُولانو ته چه هغۀ غوره کړی وُو، هدایات ورکړل او هغه آسمان ته پورته کړے شو. هغۀ د خپل مرګ نه پس په هغو ځان څرګند کړو او د دے پوره ثبوت ئے ورکړو چه هغه ژوندے دے او پوره څلویښت ورځے هغه په هغوئ پیښیدو او هغوئ ته ئے د خُدائے د بادشاهئ په حقله تعلیم ورکاوو.

عیسی جواب ورکړ: خو تاسو ته به رُوحُ القُدس په نازلیدو طاقت درکړے شی او تاسو به په بیتُ المُقدس کښے او په ټوله یهُودیه او سامریه کښے او د دے نه اخوا د دُنیا تر بله سره زما شاهدان یئ. کله چه هغهٔ دا ووئیل او هغوئ لا ورته کتل چه هغه پورته کړے شو او یوه وریځ راغله او هغه ئے د هغوئ د سترګو نه پناه کړو. او څنګه چه هغه روان وو او هغوئ آسمان پلو ځیر ځیر کتل نو سمدستی دوه سړی په سپینو جامو کښے د هغوئ په خوا کښے ودریدل. او وئے وئیل چه ائے ګلیلیانو! تاسو دلته څهٔ له آسمان پلو ځیر ځیر ګورئ؟ دغه عیسیٰ څوک چه ستاسو نه آسمان ته بوتلے شو، هم په دغه لار به بیا راځی په کُومه چه تاسو دَ تلو په وخت ولیدلو.

(اعمال ۱: ۲-۳، ۸-۱۱).

..... په آسمان کښے په زوره دا چغے واؤریدے شوے چه: د دُنیا بادشاهی زمُونږ دَ رب او د هغهٔ د مسیح ده او هغه به تل تر تله حکُومت کوی!

(مکاشفه ۱۱: ۱۵)

# د مسیح د رسولانو په وسیلې د هغه د بیا راتلو خبر

ګورئ،هغه په وریځو کښې راځی! هر څوک به ئې په خپلو سترګو وويني او هغوئ به ئې هم، چا چه سورې کړې وو،او د دُنيا ټول خلق به په هغه وير کوی. دغه شان به وی. آمين (مکاشفه ۱ : ۷).

او هغه به تاسو مصيبت زغمُونکو ته زمونږ سره آرام درکړی کله چه به مالک عيسیٰ د خپلو قوتناکو فرښتو سره په شُعله ناک اور کښې د آسمان نه ظاهر شی. هغه وخت به هغوئ چه خُدائے نۀ پيژنی او زمُونږ د مالِک عيسیٰ مسيح زيرے نۀ منی، هغوئ ته به سزا ورکوی. هغوئ به د مالک د څيرے او د هغۀ د قُدرت د جلال نه لرے د تل عُمری مرګ سزا بيا مُومی.
(دويم تسالونيکيان ۱ : ۷-۹).

مالک په خپل لوظ کښې ډيل نۀ کوی لکه چه بعضے خلق ډيل ګنړی بلکه ستاسو په باب کښې صبر کوی، د پاره د دے چه د چا هلاکت نه غواړی بلکه دا غواړی چه ټولو خلقو ته د توبے موقعه ورکړے شی. خو د مالک ورځ به د غل په شان راځی، په هغه ورځ به آسمانُونه ډير په ګړزګړُوز د نظر نه پناه شی، يعنے ستوری سيارے به د

اور په سخت تاؤ سره ویلی شی، او مزکه او په هغے د بنی آدمو ټول کارُونه به ختم شی (دویم پطرس ۳: ۹-۱۰).

## مونږ د مسیح د راتلو د پاره ښنګه تیاری وکړو.

او د وخت تقاضا پیژنئ ځکه چه اوس هغه وخت راغلے دے چه تاسو د خوبه بیدار شئ، ولے ځۀ وخت چه مُونږ ایمان راؤړے وو، د هغے په نسبت اوس زمُونږ خلاصُون نزدے دے. شپه ډیره تیره شوه، ورځ په راختو ده، نو باید چه مُونږ د تیارے د کارُونو نه لاس واخلُو او د رڼا په کارُونو پسے ملا وتړو، او چه د ورځے د رڼا په مُطابق ژوندُون تیر کړُو، نۀ چه په ګډا او نشه بازئ، نۀ په مستئ، نۀ په زناکارئ او نۀ په شهوت پرستی، نۀ په جګړے او حسد، بلکه په مالک عیسیٰ مسیح ځان پټ کړئ او د وجُود د خواهشاتو د پاره تدبیرُونه مه کوئ.
(رومیان ۱۳: ۱۱-۱۴)

او مُونږ ته دا ښائی چه بے دینی او دُنیاوی خواهشونه پریږدُو او په موجوده جهان کښے په پرهیزګارئ، صداقت او دینداری سره ژوند تیر کړُو. او د هغه مُبارک اُمید، یعنے د خپل لوئے خُدائے او خلاصوونکی عیسیٰ مسیح د

جلال د ظاهرېدو په اِنتظار شو، چې چې خپل ځان زمونږ د پاره ورکړو چې مونږ د هر قِسم نافرمانبردارئ نه خلاص کړي او پاک مو کړي، او په خپل خاص ملکيت کښې مو يو داسې خلق وګرزوي کوم چې د ښۀ کارونو د پاره په کار آخته وي. (تيطوس ۲: ۱۲-۱۴)

زه د هغه خدائے په حضور شيزونه ژوندي کوي، او د مسيح عيسىٰ په مخکښې چا چې د پنطوس پيلاطوس په وړاندې ښۀ اِقرار کړے وو، حُکم درکوم او تا ته په ټينګه وايم. چې زمونږ د مالک عيسىٰ مسيح دَ ظاهرېدو تر ورځې پورې حکم بې داغه او بې الزامه ساته (اول تيموتيوس ۶: ۱۳-۱۴).

د دې د پاره د خپل عقل نه کار واخلئ او هوښيار شئ، او د هغه فضل کامل اُميد لرئ کُوم چې د عيسىٰ مسيح د ظاهرېدو په وخت په تاسو کېدُونکے دے. بلکه لکه چې ستاسو رابلُونکے پاک دے هم هغه شان تاسو هم په خپل ټول چال چلن کښې پاک شئ.
(اول پطرس ۱: ۱۳، ۱۵).

نو اے ورونړو! د مالک تر راتلو صبر وکړئ، ګورئ زميندار د مزکې د قيمتي فصل په انتظار کښې د منې او د سپرلي د باران تر وريدو پورې صبر کوي. نو تاسو هم

صبر وکړئ او خپل زړُونه مضبُوط کړئ ځکه چه دَ مالِک راتلل نزدے دی. (یعقوب ۵: ۷-۸)
او مالک د داسے وکړی چه څنګه چه زمُونږ تاسو سره مینه ده،داسے دِ ستاسو په خپلو کښے یو تر بله مینه لرئ،او د ټولو خلقو سره دِ هم زیاتیږی او لوئیږی، د دے د پاره چه ستاسو زړُونه دِ داسے مضبوط کړی چه کله چه زمُونږ مالک عیسیٰ د خپلو پاکانو سره راشی نو هغه زمُونږ د خدائے او پلار په وړاندے په پاکوالی کښے بے عیبه وګرزی.
(۱-تسالونیکیان ۳: ۱۲-۱۳)
ائے بچو! اوس هم په هغهٔ کښے شراکت ولرئ، ځکه چه هر کله چه هغه ښکاره شی نو مونږ به په زړهٔ ورتیا سره د هغهٔ په راتلو د هغهٔ په وړاندے شرمنده نهٔ یو. (اول یوحنا ۲: ۲۸)

## د مسیح د غلامانو سره قیمتی لوظونه

او د هغهٔ د زوئے د آسمان نه د راتلو په انتظار اوسئ چه هغه ئے له مړو نه ژوندے کړے دے،یعنے عیسیٰ چه مُونږ به د راتلُونکی غضب نه بچ کړی. (اول تسالونیکیان ۱: ۱۰)

هم هغه شان مسیح یو ځل د ډیرو خلقو د ګناه وړلو د پاره قربان شوے دے. نو دویم ځل چه به هغه ښکاره شی نو د ګُناه د قُربانئ د پاره نه، بلکه د هغوئ د خلاصُون دَ پاره چه دَ هغۀ انتظار کوی.
(عبرانیان ۹ : ۲۸)

خو مُونږ د آسمان اوسیدُونکی یو او د آسمان نه مونږ د خلاصوونکی مالِک عیسیٰ مسیح په ډیر انتظار کښے یو، چه راشی. هغه به د خپل هغه قوت په وسیله په کوم چه هغه ټول څیزونه خپل تابع کولے شی، زمونږ د بدن فانی شکل به بدل کړی او د خپل جلال د صورت په شان به ئے جوړ کړی. (فیلیپان ۳ : ۲۰ - ۲۱)

مسیح ستاسو ژوندون دے، کله چه هغه ظاهر کړے شی نو تاسو به هم د هغۀ سره په جلال کښے ظاهر کړے شئ.
(کولوسیان ۳ : ۴)

ځکه مُونږ تاسو ته د مالک د کلام په مطابق وایو چه مونږ څوک چه ژوندی یو او د مالک تر راتلو پورے به پاتے شو خو د مړ شوو نه به هیڅ کله هم وړاندے کیږو نه. ځکه چه مالک به په خپله د آسمان نه د چغے، او دَ مقربے فرښتے د آواز، او د خُدائے د بګل د آواز سره راکوزیږی، او اول به هغه څوک چه په مسیح کښے مړۀ شوی دی راژوندی شی. او بیا به مونږ څوک چه ژوندی پاتے یو، د

هغوئ سره په وریځو کښے پورته کړے شو د دے د پاره چه په هوا کښے د مالک استقبال وکړُو ،او دغه شان به د مالک سره تل تر تله اوسو. (۱-تسالونیکیان **۴**: **۱۵**-**۱۷**)

ګورئ! زه به درته یوه د راز خبره کوم چه مونږ ټول خو به نه مرو بلکه مونږ ټول به بدل شو، د سترګے په یو رپ کښے چه ورستے بګل وغږیږی او د بګل د آواز سره به مړی په غیر فانی حالت کښے راژوندی شی، او مونږ به بدل شو. (اول کورنتیان **۱۵**: **۵۱**-**۵۲**)

او هر کله چه مشر شپونکے ظاهر شی نو تاسو ته به د جلال داسے سهره درکړے شی چه د مړاوے کیدو نۀ ده. (اول پطروس **۵**: **۴**)

خوږو دوستانو! مونږ اوس هم د خدائے بچی یو خو په دے نۀ پوهیږو چه څنګه به شُو،خو مُونږ په دے پوهیږُو چه هر کله چه عیسیٰ راښکاره شی نو مونږ به د هغۀ په شان شُو ځکه چه مُونږ به ئے هم په هغه شان وینو څنګه چه هغه دے. هر څوک چه په مسیح دا اُمید لری،هغه ځان داسے پاک ساتی لکه چه مسیح پاک دے (اول یوحنا **۳**: **۲**-**۳**).

# راتلونکې بادشاهت

دا هغه کشف دے چه خدائے عيسیٰ مسيح له ورکړو چه هغه خپلو غلامانو ته هغه خبرے وښئ چه کُومے به زر تر زره پيښيږی. هغهٔ خپله فرښته خپل غلام يوحنا ته راواستوله او دا خبرے ئے ورته وښئيلے

(مکاشفات ۱ : ۱).

بيا ما يو نوے آسمان او يوه نوے مزکه وليده ځکه چه وړومبنے آسمان او وړومبنئ مزکه غائب شوی وو او سمندر هم نهٔ وو. او ما پاک ښار، يعنے نوے بيت المقدس وليدلو چه د خدائے له طرفه له آسمان نه راکُوزيدو، او دا داسے تيار کړے شوے وو لکه چه ناوے د خپل خاوند د پاره ښکلے تياره کړے شوے وی. ما له تخت نه يو اوچت آواز واؤريدو چه دا ئے وئيل چه ګورئ! اوس خدائے د بنی آدمو په مينځ کښے استوګنه کوی، هغه به د هغوئ سره اوسيږی او هغوئ به د هغهٔ اُمت وی او خدائے به په خپله دَ هغوئ سره وی. هغه به دَ هغوئ دَ سترګو ټولے اوښکے وچے کړی، هلته به نهٔ مرګ، نهٔ ويره، نهٔ ژړا او نهٔ درد وی ځکه چه وړومبی ځيزونه تير شوی دی.

(مکاشفات ۲۱ : ۱-۴)

خو هیڅ ناپاک څیز به ورننوتے نۀ شی او نۀ پلیت او نۀ دروغژن،خو صرف هغه د چا نُومُونه چه د ګډوری د ژوندُون په کتاب کښے لیکلی دی.
(مکاشفات ۲۱: ۲۷)

د خلقو د پاره به غرونه سلامتیا او غونډئ صداقت راؤړی. ټول بادشاهان به ورته سجده وکړی. ټول قومونه به د هغۀ خدمت وکړی. (زبور ۷۲: ۳، ۱۱).

## راځی چه دعا وکړو

عیسیٰ جواب ورکړو چه هر کله چه تاسو دعا کوئ نو داسے وایئ: ائے پلاره!
ستا نوم دِ پاک شی او ستا بادشاهی دِ راشی.
زمُونږ د هرے ورځے رزق مُونږ له راکړه ے.
او مُونږ ته زمُونږ ګُناهُونه وبخښے،
ځکه چه مُونږ هم خپل قصُور وار بخښُو،
او مُونږ په آزمیښت کښے مه اچوه. (لوقا ۱۱: ۲-۴)
خدائے چه د سلامتئ سر چینه دے تاسو دِ په خپله بلکل پاک کړی،او ستاسو روح او ځان او تن دِ زمونږ د مالک عیسیٰ مسیح تر راتلو پورے پوره بے عیبه وساتی. (اول تسالونیکیان ۵: ۲۳)

او ځوک چه د دے خبرو شهادتورکوی هغه وائی چه هو،زه زر درځم! آمین،مالک عیسیٰ راشه!
(مکاشفات ۲۲: ۲۰)

SGM International

Pushto C .K.     18/2002.     3M